afghanistan justice archive

DEC3.11.11.2025-B



# په ننګرهار ولایت کې (۱۴) مجرمینو او متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

چهارشنبه ۱۴۰۴/۸/۲۱ - ۱۵:۱۸




د ننګرهار ولایت ښاري او لعلپورې ولسوالۍ ابتدائیه محاکمو د پرېکړو له مخې، د یوې ښځې په ګډون (۱۴) کسانو ته له کوره د تېښتې او شراب خرڅولو په جرم او د لواطت او غلا په تور، د ۱۴۴۷ هـ ق کال د جمادی الأولی میاشتې په ۲۰مه او ۲۱مه نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محاکمو دغه مجرمین او متهمین پر ۳۹ـ ۳۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یادې پرېکړې د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو کسانو تطبیق شوې.

په دې موخه جوړه شوو غونډو کې چې د محاکمو د قضائي او اداري غړو سربېره په کې د

نورو امارتي ادارو مسؤولینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود، د تعزیري سزاګانو د تطبیق پر ګټو او ارزښت تفصیلي خبرې وشوې.
او یادې غونډې د دعاء په ویلو پای ته ورسېدې.